د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# پښتو

## لومړی ټولګی




Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسی کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

ISBN 978-9936-25-154-0
9 789936 251540 >

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# پښتو

## لومړی ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب د تألیف، څېړنې او تدقیق کمیټې**

## لیکوالان:

۱. سر مؤلف پیر محمد (وردګ) او سوسن (وردګ).

## تایید او مطالعه:

## ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

### کابل پوهنتون:

۱. پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو دیپارتمنټ استاد.
۲. پوهنمل مکمل د کابل پوهنتون اداري مرستیال.
۳. پوهنمل محمد آقا شېرزاد د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد.
۴. پوهنوال لطف الله صافی د کابل پوهنتون استاد.
۵. ډاکټر الف شاه ځدران د ټولنیزو علومو د پوهنځی استاد.

### علومو اکاډمي:

۱. څېړونکی عبدالله بختانی خدمتګار د افغانستان د علومو د اکاډمۍ پخوانی غړی.
۲. څېړونکی حبیب الله رفیع د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړی.
۳. سر څېړونکی عبدالواجد واجد د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

### پوهنې وزارت:

۱. ډاکټر صدیق الله ویرا د پوهنې وزارت سلا کار.
۲. پوهاند ګل رحمن د ښوونې او روزنې د پوهنځي رئیس.
۳. د سر مؤلف مرستیال امین الله نژند د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
۴. د مؤلف مرستیاله فروزان خاموش د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.
۵. محمد عزیز تحریک د پښتو دیپارتمنت آمر.
۶. د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.
۷. فریده نایبی د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.
۸. انځورګران: سید انور مېچنځېل او محمد ظاهر طاهري د آرت او هنر د دیپارتمنت غړي.

**د محتویاتو، دینی، او ادبیاتو، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:**

۱ - دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار.
۲ - محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.

د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی

سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

**کمپوز او ډیزاین:** رحمت الله غفاري او حمیدالله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کـور دی — د بلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـــر دي — پامیـــریان، نورستانیـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایمـــاق، هم پشـه یان
دا هیـــواد به تل ځلیږي — لکـــه لمـــر پر شنه آسمـان
په سینـــه کې د آسیـــا به — لکـــه زړه وي جـــاویدان
نوم د حق مودی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

**ګرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکى دى چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دى، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوى دى. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستى د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوى کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


د چمتووالي دوره ........................................
انځوريزه الفبې ........................................
۱. ا ، الله (ج) ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲. آ ، آسمان ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۳. ب ، بريالى ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۴. پ، پوپل ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۵. ت، تله ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۶. ټ ، ټال ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۷. ث، ثور ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۸. ج، جاله وان ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۹. ح، حج ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۰. خ، خېمه ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۱. چ، چارمغز........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۲. څ، څرخى ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۳. ځ، ځنګل ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۴. د، دوکان........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۵. ډ، ډنډ ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۶. ذ، آذان ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۷. ر، رمه ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۸. ړ، ړوند ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۱۹. ز، زرګر ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۰. ژ، ژرنده ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۱. ږ ، وږى ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۲. س، سابه ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۳. ش، شپون ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۴. ښ، ښار ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۵. ص، صندلۍ ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۶. ض، حوض ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۷. ط، طوطي ........................................ (۳ دري ساعتونه)
۲۸. ظ، منظره ........................................ (۳ دري ساعتونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲۹. ع، ساعت ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۰. غ، غاښ ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۱. ف، فوټبال ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۲. ق، قلم ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۳. ک، کور........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۴. ګ، ګلان ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۵. ل، لو ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳٦. م، مور ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۷. ن، نارنج ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۸. ڼ، اتڼ ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۳۹. و، واوره ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۰. ه، اره ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۱. ی، منی ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۲. ې، مېوې ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۳. ۍ، هګۍ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۴. ئ، ولولئ ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۵. ي، منګي ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴٦. هــ، هیلۍ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۷. د الفبې تکرار اوتمرینونه ........................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۸. د الفبې ترانه ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۴۹. دکال موسمونه ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۰. اختر ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۱. زمونږ هېواد ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۲. بیرغ ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۳. جرګه ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۴. کوتره........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۵. همکاري ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵٦. ښه انسان ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۷. زغم ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۸. ښه ماشومان ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

۵۸. اوبه او ژوند ........................................................ (۳ دري ساعتونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۹. لمر ............................................................ (۳ دري ساعتونه)
٦۰. روغ سړی ...................................................... (۳ دري ساعتونه)
٦۱. بدکارونه ..................................................... (۳ دري ساعتونه)
٦۲. اورلګیت ...................................................... (۳ دري ساعتونه)
٦۳. ځواني لتیوم .................................................... (۳ دري ساعتونه)
٦۴. انا ............................................................ (۳ دري ساعتونه)
٦۵. درناوی کول .................................................. (۳ دري ساعتونه)
٦٦. دوستی او ملګرتیا ............................................. (۳ دري ساعتونه)
٦۷. روغه جوړه .................................................... (۳ دري ساعتونه)
٦۸. کتاب ........................................................ (۳ دري ساعتونه)
٦۹.دهیلی بدشکله بچی ......................................

**یادونه:**

دپښتو مضمون په یوه اونۍ کې (۸) ساعته لري او موږ په یوه کال کې (۲۸) اونۍ لرو چې په یوه کال کې ۲۲۴ ساعته کیږي اوس نو دپښتو دکتاب چمتوالي دورې، انځوریزه الفبې او الفباته مو ۲۱ ساعته ورکړي دي.

دپاتې کتاب هر لوست ته مو ۳ ساعته او هر مخ ته دکتاب مو یونیم ساعت او پاتې یو نیم ساعت مو د هر لوست تمرینونوته ورکړی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# دچمتووالي دوره







(c) ketabton.com: The Digital Library





گ گ گ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ل ل ل

(c) ketabton.com: The Digital Library







و و و

b b b

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انځوريزه الفبي




(c) ketabton.com: The Digital Library

# الفبا

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | آ | ب | پ | ت | ټ | ث |
| ج | چ | ح | خ | څ | ځ | د |
| ډ | ذ | ر | ړ | ز | ژ | ږ |
| س | ش | ښ | ص | ض | ط | ظ |
| ع | غ | ف | ق | ک | ګ | ل |
| م | ن | ڼ | و | ھ | ه | ی |
| ې | ۍ | ئ | ي | | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ا

د دي لوست موخه دا ده چې زده كوونكي وكولی شي د ( ا ) د توري نوم بنه، غږ او ليكل زده كړي.

**پوښتني:**

١ . په پورتني انځور كې څه وينئ؟


٢ . مورِ د چا بنده ګان يو؟

٣ . د الف، شكل څه شي ته ورته دی؟










الله (ج)

ا - الله

الله (ج) يـــو دی .

الله

مونږ د الله (ج) بنده ګان يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (الف) غږ په یوازې او ګروپي توګه ادا کړي.

۲. زده کوونکي دې د مخکینۍ پاڼې د چوکاټ د کلمو په څېر کار وکړي.

۳. زده کوونکي دې د (الف) د توري شکل په هوا کې په ګوته رسم کړي او دهغې آواز دې هم وکاږي.




ا ا ا ا ا ا ا ا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آ

د دي لوست موخه داده چې زده کوونکي د ( آ ) د توري نوم، بڼه او غږ
وپېژندلی شي او هم يې وليکلی شي.

پوښتنې:

١ . په پورتني انځور کې څه وينئ؟

٢ . د شپې په آسمان کې څه شی وينئ؟



آس



آلو

آسمان

آس - مان

د ا آسمـــــــان دی.

آسمان

آسمان ستوري لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( آ ) غږ په یوازې او ګروپي توګه ادا کړي.

۲. زده کوونکي دې د مخکینۍ پاڼې دچوکاټ دکلمو په څېړ کار وکړي.

۳. زده کوونکي دې د ( آ ) دتوري شکل په هواکې په ګوته رسم کړي،اودهغه آواز دې هم وباسي.

۴. زده کوونکي دې د ( آ ) توری په خپلو کتابچوکې په کور کې ولیکي.

کورنۍ دنده

آ آ آ آ آ آ آ


(c) ketabton.com: The Digital Library




# ب

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ب ) د توري نوم، بڼه او غږ وپيژندلی شي او هم يې وليکلی شي.


باز


رباب


بادام

**پوښتنې:**

۱. په پورتني عکس کې څه وينئ؟
۲. په خوراکي شيانو کې موخه شی خوښيږي؟
۳. ستاسو په کور کې د چا د رباب غږول زده دي؟

# بريالی

بريالی کباب خوري .

بابا هم کباب خوري.

| |
|---|
| کــ - باب |
| با – با |
| باد |

کباب
بابا
باد

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې د ( ب ) غږ په یوازې او ګروپي توګه ادا کړي.

٢. زده کوونکي دې د مخکینۍ پاڼې دچوکاټ دکلمو په څپو کار وکړي.

٣. زده کوونکي دې د( ب ) دتوري شکل په هواکې رسم کړي او دهغې آواز دې هم وباسي.

۴. زده کوونکي دې د( ب ) توری په خپلو کتابچو کې په کور کې ولیکي.




بـ بـ بـ بـ بـ بـ بـ بـ بـ بـ بـ

ب ب ب ب ب ب ب ب ب

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پ



د دي لوست موخه داده چي زده کوونکي د ( پ ) د توري نـوم، بڼـه او غـږ وپېژنـي او وليکي.

**پوښتني:**

١ . پرته له توپ څخه پر نورو کومو شیانو لوبې کوئ؟
٢ . دکومو شیانو نومونه په (پ) سره پیل کیږي؟
٣ . آیا تاسي پل پیژنئ؟


توپ


پاده


پل

# پوپل

پوپل توپ لري.

په توپ لوبې کوي.

زما توپ سپین دی.

| |
|---|
| تو – پ |
| پو – پل |
| پا - ده |

توپ
پوپل
پاده

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (پ) د توري غږ په یوازې او ګروپي توګه ادا کړي.

۲. زده کوونکي دې د (پ) توری لس ځلي په خپلو کتابچو کې ولیکي.

۳. زده کوونکي دې د مخکینۍ پاڼې د چوکاټ د کلمو په څپو کار وکړي.

۴. زده کوونکي دې د لاندې نیمګړو کلمو څخه چې د (پ) په توري سره پیل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

پ — ویل
پ — اده
پ — وره
پ — ول




پـ پـ پـ پ پ پ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ت



ددې لوست موخه داده چې زده کوونکي د ( ت )دتورې نوم، بڼه اوغږ وپېژني او وېې لیکي.

۱. آیا تاسو تله پېژنئ؟

۲. تله د څه شي له پاره کارول کېږي؟

۳. کله چې ونې په تبر پرې کړئ بیا لرګي دخه له پاره په کارېږي؟










## تله

| |
|---|
| ت – له |
| تو – تیا |
| تو - تان |
| تول |

تله
توتیا
توتان
تول

دا تله ده.

توتیا توت تلي.

توت تور هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. زده کوونکي دې د (ت) دتوري غږ، په يوازې او ګروپي توګه ادا کړي.

۲. زده کوونکي دې د (تله، توتيا، توتان، تول) کلمو په څپو باندې کار وکړي.

۳. زده کوونکي دې د لاندې تمرين له نيمګړو کلمو څخه چې په ( تو، تا )

سره پيل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.







تـ تـ تـ ت ت ت ت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټ

ددې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د( ټ ) د توري نوم، بڼه اوغږ وپېژنـــي او ويې ليکي.

**پوښتنې:**

١. په پاس انځور کې څه شيان وينئ؟

٢. دخټک بل بوټ څه شو؟

٣. تاسې کله په ټال کې زنګېدلي ياست او که زنګېدلي يئ و نه وېرېدئ؟



کټ



بوټ



بوټان

| |
|---|
| خـــ - ټک |
| ټال |
| غــــ - ټ |

خټک

ټال

غټ

## خاټوله په ټال کې زانګي.

## خټک د خاټولې ورور دی.

## د خټک بوټان تور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د(ختېک، ټال اوغټ) دکلمو په څېړو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې تمرين له نيمګړو کلمو څخه چې د ( ټ ) پــه توري پيل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.

ټ — ول

ټ — وکه

ټ — وټې




ټــ ټــ ټــ ټ ټ ټ ټ ټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ث



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ث ) دتوري نوم، بڼه اوغږ وپېژني او ويې ليکي.


ثریا


کوثر


دجرثقیل رسم
جرثقیل

**پوښتنې:**

١. په انځور کې څه شيان وينئ خبرې پرې وکړئ؟
٢. آيا تاسې باغچه لرئ او څه په کې کرئ؟
٣. باران څه ګټې لري؟
٤. ثور دکال څوومه مياشت ده؟

# ثور

**ثور د پسرلي دويمه مياشت ده.**

**په ثورکې ګلان شنه کيږي.**

**کوثر په باغچه کې ګلان کري.**

| |
|---|
| ثر - يا |
| ثو – ر |
| کو - ثر |

ثريا
ثور
کوثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (ث) دتورې، غږ، په یوازې او ګروپي توګه ادا کړي .

۲. زده کوونکي دې د (ثریا، ثوراو کوثر) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۳. زده کوونکي دې دچوکاټ له مخې دتورو څخه کلمې جوړې کړي.

| | |
|---|---|
| ور | ث |
| | ریا |





ثـــ ثـــ ثـــ ثـــ ث ث ث ث

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ج



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ج ) دتوري نوم، بڼه اوغږ وپېژنـــي او يې وليکي.


جونګی


جرابې


جال

پوښتنې:

۱. تاسي کله جاله ليدلې ده؟

۲. له جالې څخه څه کار اخيستل کېږي؟

۳. داوښ څخه څه کار اخيستل کېږي؟

## جاله وان

| |
|---|
| جا- له - وان |
| سـ - راج |
| جا – له |
| جون - ګي |

دا جاله ده.

سراج جاله وان دی.

د ښوونځي ميدان جال لري.

جاله وان

سراج

جاله

جونګی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د(جاله وان، سراج، جاله، جونګی) دکلمو په ښــو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دچوکاټ له منځې د ( ج ) له توري ښخه کلمې جوړې کړي.

| | |
|---|---|
| اله | |
| ج | ال |
| اله وان | |




جـ جـ جـ جـ ج ج ج ج

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ح



د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د (ح ) د توري نوم، بڼه اوغږ وپېژنـــي او ويې ليکي.

پوښتنې:

۱. په پورته عکس کې څه وينئ؟
۲. حاجيان په مکه معظمه کې څه کوي؟
۳. ستاسې له کلي څخه څو تنه حج ته تللي دي؟
۴. حج په چا فرض دی؟



حلوا



حوض




حلاجي

حج

ذبيح حج ته ځي .

| |
|---|
| حلــ – وا |
| حو- ض |
| حا – جي |

د جمال کاکا حاجي دی.

حلوا

حوض

حاجي

حج کول فرض دی.



۱. زده کوونکي دې د(حلوا، حوض، حاجي) دکلموپه ځپو بانــدې کــار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د( ح ) په توري پیــل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.

حـ

لوا

وض


یران




حـ حـ حـ حـ ح ح ح ح

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خ




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د(خ ) دتوري نوم، بڼه اوغږ وپېژنـــي او ويې ليکي.

**پوښتنې:**

١. تاسو دکوچيانو خېمې ليدلې دي؟
٢. کوچيان ولې له يوه ځاى څخه بل ځاى ته ځي؟
٣. کوچيان کوم ځاروي ساتي؟


خياط


خټکى


دخرما ونه

## خېمه

کوچيان خېمې لري.

په خېمو کې ژوند کوي.

لمر خټکي پخوي.

| |
|---|
| خېـــ – مه |
| پـ– خـــ - وي |
| تر - يخ |

خېمه
پخوي
تريخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (خيمه، پخوي اوتريخ) دکلمو په څپوکاروکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې تمرين له نيمګړو کلمو څخه چې د (خ) پـــه توري پيل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.

خــ

رما

ټکی

ور

یاط




خــ خــ خــ خــ خ خ خ خ خ

# چ



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د (چ ) د توري نوم، بڼه او غــږ وپېژنــي اوهم يې وليکي.

**پوښتنې:**

۱. آيا تاسې په کوم ځای کې دچارمغز ونه ليدلې ده؟

۲. تاسې څو ډوله چارمغز پېژنئ؟

۳. شات دڅه شي څخه لاس ته راځي؟










# چارمغز

مالوچ

| |
|---|
| چـــ – من |
| چار- مغز |
| کو- چی |

چمن

چارمغز

کوچی

موچي چارمغز راوړل .

کوچی توت او چارمغز خوري.

په چمن کې ونې ولاړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (چارمغز،چمن اوکوچي) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د( چ ) د توري څخه دچوکاټ له مخې کلمې جوړې کړي.


| | |
|---|---|
| | ی جوشه |
| بک | چا |
| | لاک |




چـ چـ چـ چـ چ چ چ چ چ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځ




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د (ځ ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژنـــي اوهم يې وليکي.

**پوښتنې:**

۱. په پورتني انځور کې ښځه څه کوي؟
۲. تاسې په کور کې ځمځې لرئ ؟
۳. بزګران ځيږه دڅه له پاره جوړوي؟



ځمځه



څاه



څپره

# ځرخه

## زما مور ځرخه کوي.

| |
|---|
| ځر – خه |
| ګل-ځي-ره |
| لېم – ځې |

ځرخه
ګل ځيره
لېمځې

## ځرخې ته په لېمځې ناسته ده.


## لېمځې له وړيو ځخه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (خرخه، ګل، خېره او لېمخي) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې نيمګړو کلمو څخه چې د( خ ) په توري پيل شوې دې بشپړې کلمې جوړې کړي.







خــ خــ خــ خــ خ خ خ خ خ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځ



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د (ځ ) د توري نوم، بڼه اوغږ وپېژني اوهم يې وليکي.

**پوښتنې:**


آيا تاسې ځنګل ليدلی دی؟

په ځنګله کې کوم، کوم شيان پيداکېږي؟


په کوم موسم کې دونو د پاڼو رنګ ژېړ وي؟



ځاله



ږمنځ



ځنځير

## ځنګل

دا ځنګل دی.

اجمل ځنګله ته ځي.

ښځې اونارينه په ځنګل کې پاڼې ټولوي.

ښځې دزده کړې حق لري.

ځن – ګل

ځـــ - مـــ-کې

ورځ

ځنګل

ځمکې

ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱. زده کوونکي دې د ( ځنګل، ځمکې او ورځ ) دکلمو په څېو کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې نیمګړو کلمو څخه چې د( ځ ) په توري پیل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

ځـــ — ان

ځـــ — نګل

ځـــ — نځیر

ځـــ — ولۍ



کورنۍ دنده



ځـــ ځـــ ځـــ ځـــ ځ ځ ځ ځ ځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( د ) د توري نوم، بڼه اوغـــږ وپېژنـــي اوهم يې وليکلی شي.

پوښتنې:

١. تاسو شيان چېرته اخلئ؟
٢. له دوکان څخه دخپلې خوښې کوم شيان اخلئ؟
٣. له دوکان څخه پرته نور په کومو ځايونو کې سودا اخلئ؟



دستکول



رود



دروازه

## دوکان

| |
|---|
| دو – کان |
| دا - دا |
| و - دود |

ودود دوکان لري.

په دوکان کې سودا خرڅوي.

دو-کان

دا-دا

و-دود

داود له ودود سره مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (دوکان، ودود، دادا) دکلمو په څېړو کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې نیمګړو کلمو څخه چې د (د) په توري پیل شوي ، بشپړې کلمې جوړې کړي.

د — روازه
د — ره
د — اش
د — ام
د — وکان




د د د د د د د د د

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډ



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ډ ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژنــــي اوهم يې وليکلی شي.




ډول





راډيو

پوښتنې:

۱. په انځورونو کې څه شی وينئ؟
۲. آيا تاسې کوم وخت په ډنډ کې لمبلي دي؟
۳. له ډنډ څخه څه ډول ګټې اخلئ؟
۴. پرته له ډنډونو څخه نورله کومو ځايونو نه اوبه په لاس راځي؟

## ډنډ

| |
|---|
| ډ — نډ |
| ډ - ول |
| ډو — ډۍ |

ډنډ
ډول
ډوډۍ

موږ په باغچه کې يو ډنډ لرو.

خلک په پاکو ډنډونو کې لامبي.

ډيوه او رشاد په خپل وخت ډوډۍ خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې د (ډ) دتوري شکل په هوا کې رسم کړي.

٢. زده کوونکي دې د (ډنډ، ډوډۍ او ډول) دکلمو په څپو کار وکړي.

٣. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د (ډ) په تـــوري پیـــل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

ډ

نډ

ول

اکټر

وډۍ

اډه




ډ ډ ډ ډ ډ ډ ډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ذ




د دې لوست موخه دا ده چې  زده کوونکي د ( ذ ) د توري بڼه، نوم او غږ وپېژني او هم یې ولیکلی شي.

**پوښتنې:**


١.  په انځورونو کې څه شی وینئ؟
٢.  ملا ولې آذان کوي؟
٣.  ملا څو وخته آذان کوي؟
۴.  ذره بین دڅه شي له پاره کارول کېږي؟



ذره بین



ذاکره



کاغذ

## آذان

| |
|---|
| ذا - کره |
| آ – ذان |
| کا – غذ |
| جا - ذب |

ذاکره
آذان
کاغذ
جاذب

**ملا آذان کوي.**

**ذکي جومات ته ځي.**


**په جومات کې لمونځ کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (آذان، کاغذ، جاذب) دکلمو په څېر کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د (ذ) په تـــوري پيل شوې دي. بشپړې کلمې جوړې کړي.








ذ ذ ذ ذ ذ ذ ذ ذ

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ر




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ر ) د توري نوم، بڼه او غږ وپيژنـــي اوهم يې وليکلی شي.





غر

پوښتنې:

١. په پورته انځور کې څه شی وينئ؟

٢. څوک د رمې څخه ساتنه کوي؟

٣. شپون د موسيقۍ کومه آله غږوي؟

٤. د رمې څخه څه شيان لاس ته راځي؟

## رمه

| |
|---|
| ر – مه |
| غر |
| با - زار |
| غرو - نه |

رمه
غر
بازار
غرونه

ذاکر رمه لري.

رمه په غره کې پيايي.

له رمې څخه ګټه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د(رمه، غر، بازار، غرونه) دکلمو په څېر کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د( ر ) په توري پیل شـــوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

ر — نا
ر — مه
ر — حیم
ر — ود




ر ر ر ر ر ر ر ر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ړ




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ړ ) د توري نوم، بڼه اوغږ وپيژنــــي او هم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**


١. تاسې څوک پيژنئ چې ړوند وي؟

٢. ايا ړوند سړی ليک زده کولی شي؟

٣. ړوند نوروته لارښوونه کولی شي؟



چاړه



لړم



کړکۍ

# ړوند

ړو – ند
زړ - ګی
سـ- ړی
لـ - ړم

ړوند
زړګی
سړی
لړم

د زړګي پلار ړوند دی.

له ړانده سره مرسته کول ښه کار دی.

ړوند سړی ليک او لوست زده کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( ړوند، زړګی، سړی، لړم ) دکلمو پــه ښپــو کــار وکړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د (ولاړ، لړم، وړاندې، ړوند) په کلمو کې د ( ړ ) تر توري دایره وکاږي.




ړ ړ ړ ړ ړ ړ ړ ړ ړ


(c) ketabton.com: The Digital Library



# ز

د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ز ) د توري، نوم، بڼه اوغږ وپيژني او هم يې وليکلى شي.










پوښتنې:

۱. تاسې سره زر پيژنئ؟

۲. ستاسو په کور کې څو ډوله زر شته؟ نومونه يې واخلئ.

۳. زر له څه شي څخه جوړېږي؟

## زرګر

زر – ګر
ګر - ديز
با - زار

زما ورور زرګر دی.

زرګر
ګرديز
بازار

زمرک په بازار کې ګاڼې جوړوي.

په ګرديز کې د ګاڼو دوکان لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( ز ) دتوري شکل په آزاده هوا کې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د ( زرګر، بازار،ګردېز ) دکلمو په څپو کار وکړي.

۳. زده کوونکي دې د لاندې تمرين له نيمګړو کلمو څخه چې د ( ز ) په توري پيل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.

ز

رکه

انې

وی

رګر





ز ز ز ز ز ز ز ز ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکې د( ژ ) د توري نوم، بڼه او غــږ وپېژنـــي اوهم يې وليکلی شي.



ژبه

**پوښتنې:**

۱. په پاسني انځور کې څه وينئ؟

۲. آيا تاسې کله ژرندې ته تللي ياست؟که تللي ياست، هلتــه موخه ليدلې دي؟



غژګو

# ژرنده

| ژ - وند |
|---|
| ژبه |
| ژ– رنده |

ژوند

ژبه


ژرنده

**نږند يوه ژرنده لري.**

**پږواک د نږند ملګرى دى.**

**دوى ژرندې ته يو ځاى ځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( ژوند، ژبه، ژرنده ) دکلمو په ښېو کار وکړي.


۲. زده کوونکي دې د لاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ژ ) په تـــوري پیل شوې ، بشپړې کلمې ترې جوړې کړي.

ژ —— وند
ژ —— اله
ژ —— به
ژ —— رنده




ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ ژ

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ړ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ړ ) د توري نوم، غږ اوبه وپېژني او هم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

۱. تاسې دغنمو وږي ليدلي دي؟
۲. وږمې له غنمو څخه څه شی جوړ کړل؟
۳. پرته له غنمو نور دڅه شي وږي پيژنئ؟
۴. دغنمو څخه څه شيان په لاس راځي؟



ږمنځ



غوږ



موږک

# وږی

د وږمې پلار غنم وريبل.

سپوږمۍ د غنمو وږي راټول کړل.

د غنمو ډوډۍ خوږه وي.

| |
|---|
| ږ – منځ |
| مو – ږک |
| غو – ږ |

ږمنځ
موږک
غوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. زده کوونکي دې د ( ږمنځ، موږک، غوږ ) دکلمو په څپو باندې کارو کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( مېږه، موږک، وږی، غوږ، ږمنځ، سپوږمۍ ) په کلمو کې دې د ( ږ ) تر توري دايره وکاږي.




ږ ږ ږ ږ ږ ږ ږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# س

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( س ) د توري نوم، بڼه اوغږ وپېژنـــي اوهم يې وليکي.



آس









پوښتنې:

١. تاسې څو ډوله سابه پېژنئ؟

٢. کوم سابه خام اوکوم سابه پاخه خوړل کېږي؟

٣. سابه څه ډول مينځل کېږي؟

# سابه

سا - به

آ – س

پسر – لی

سابه

آس

پسرلی

**اسلم له بازار څخه سابه راوړل.**

**سارا سابه پاک ومينځل.**

**د سبوخوړل روغتيا ته ډېره ګټه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( سابه، آس، پسرلی ) دکلمو په ښېو کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( س ) په توري پیل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

سـ — با

سـ — هار


سـ — ور

سـ — پی




ســ ســ ســ س س س س

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ش

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ش ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژني او هم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**


١. شپون رمه چېرې پيايي؟
٢. روا ش څه ډول خوند لري؟
٣. له داش څخه څه کار اخيستل کېږي؟
۴. آيا ستاسو شپېلۍ يا کومه بله دموسيقۍ آله زده ده؟



ماشين



داش



شپېلۍ

## شپون

| |
|---|
| شـــ - پون |
| دا - ش |
| شـــ - پې- لۍ |

شپون
داش
شپېلۍ

**شپون رمه پيايي.**

**په شنو درو کې رمې ښې خري.**

**شاکر په کلي کې داش لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( شپون، داش، شپېلۍ ) دکلمو په څېر کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ش ) په توري پیل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي؟

شـ ــــ پون

شـ ــــ اباس

شـ ــــ ین

شـ ــــ ولي

شـ ــــ اولي

کورنۍ دنده

شـ شـ شـ شـ ش ش ش ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د(ښ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژني او هم يې وليکلی شي.



اوښ









**پوښتنې:**

۱. په انځور کې څه چې وينئ خبرې پرې وکړئ؟

۲. تاسې په ښار کې اوسيږئ او که په کلي کې؟

۳. پرته له ښارونو څخه خلک چيرې اوسيږي؟

## ښار

زه په ښار کې اوسېږم.

ښار جګ جګ تعميرونه لري.

په ښار کې ښوونځي ډېردي.

ښا - ر

او- ښ

مـــ - ښوکه

ښار

اوښ

مښوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( ښار، اوښ، منښوکه ) دکلمو په څپو کاروکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ښ ) په تــوري پيــل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

ښــ — ار
ښــ — ادي
ښــ — کرونه

کورنۍ دنده

ښــ ښــ ښــ ښــ ښ ښ ښ ښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ص

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د (ص) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژني او هم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

١. تاسې په ژمي کې له سړوخه ځان څنګه ساتئ؟

٢. په ژمي کې څه ډول کالي اغوندئ؟

٣. دسکرو له سرنيوي څخه څنګه مخنيوی کېږي؟










## صندلۍ

صنـــ - د-لۍ

بـــ- صير

خـــ - لاص

صندلۍ

بصير

خلاص

مور په ژمي کې صندلۍ ږدو.

صابر د صابون په فابريکه کې کار کوي.

بصير په دوکان کې هر ډول صابون خرڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( صندلۍ، بصیر، خلاص ) دکلمو په څپو کار وکړي.


۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلموڅخه چې د ( ص ) په توري پیل شوي دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

صـــ — ابر، ابون، نف، ندوق

کورنۍ دنده

صـــ صـــ صـــ صـــ ص ص ص ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ض


د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ض ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژنـــي اوهم يې وليکلی شي.

پوښتنې:

۱. خلک په اوړي کې چېرې لامبي؟

۲. نور کوم شيان په اوبو کې لامبي؟

۳. تاسو کوم وخت لامبو وهلې ده؟


قاضي


ضعيف

# حوض

حوض
افضل
ضرور
ضمير

موږ په کور کې حوض لرو.

دا حوض افضل جوړ کړی دی.

له حوض څخه نيالګيو ته هم اوبه ورکوو.

حوض
اف – ضل
ضـــ - رور
ضـــ - مير

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( حوض، افضل، ضمير، ضرور ) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې پر تخته د ( قاضي، ضعيف، ضرورت، حوض ) پــه کلمو کې د(ض) تر توري دايره وکاږي.




ضـــ ضـــ ضـــ ضـــ ض ض ض ض

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ط



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ط ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژني او هم يې وليکلی شي.



طوطي



سطل



طبله

پوښتنې:

١. تاسې پرته له طوطي څخه کوم الوتونکي پېژنئ؟

٢. طوطي څنګه مرغه دی؟

٣. له طبلې څخه پرته دموسيقۍ نورې کومې آلې پېژنئ؟

## طوطي

طوطي ښکلی مرغه دی.

طاهرله طوطي سره خبرې کوي.

د خياط طوطي شپېلی وهي.

| |
|---|
| و - طن |
| طو - طي |
| خـــ - ياط |

وطن

طوطي

خياط

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( وطن، طوطي، خیاط ) دکلمو په څپو کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ط ) په توري پیل شوي دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.


ط — وطي
ط — ناب
ط — اووس
ط — یاره

کورنۍ دنده



ط ط ط ط ط ط ط

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ظ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ظ ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژني اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

١. په منظره کې څه وينئ؟

٢. کوم ځای ستاسو خوښېږي او دليدو هيله يې لرئ؟



لوښي



لوښي

## منظره

دا د حفيظ د کلي منظره ده.

زموږ هېواد ښکلي منظرې لري.

د ظريف منظرې خوښېږي.

من - ظ - ره

ظر - فونه

حـ - فيظ

منظره

ظرفونه


حفيظ

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. زده کوونکي دې د(منظره، نظر، حفیظ) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ظ ) په توري پیل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.




کورنۍ دنده



(c) ketabton.com: The Digital Library




# ع

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ع ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژني اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

۱. ساعت په ژوند کې څه ارزښت لري؟
۲. ستاسو ښوونځی په څو بجو پيل کېږي؟
۳. تاسې څه وخت لوبې کوئ؟



عينکې



ساعت

| |
|---|
| سا - عت |
| عـــ - مر |
| عيـــ - نـــ- کې |

# ساعت

## عبدالله ساعت جوړونکی دی.

## ساعت بېل بېل ډولونه لري.

## ساعت موږ ته وخت را ښيي.


ساعت
عمر
عينکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د( ساعت، عمر، عينکې ) دکلمو په ځپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نيمګړو کلمو څخه چې د ( ع ) په تـــوري پيـــل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.




تمرين

عـــ عـــ عـــ ع ع ع ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( غ ) د توري، نوم، بڼه اوغږ وپېژني او هم يې وليکلی شي.

پوښتنې:


١. دغاښونو پاکول څه ګټې لري؟
٢. تاسو غاښونه په څه شي پاکوئ؟
٣. دروغتيا دساتلو له پاره نورڅه کوئ؟











غر

## غاښ

د غمي غاښونه روغ دي.

هر وخت خپل غاښونه برسوي.

زرغونه هم خپلې روغتيا ته ډېر پام کوي.

| |
|---|
| غــ - مي |
| روغ - تيا |
| غا - ښونه |

غمی
روغتيا
غاښونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( غمی، روغتیا، غاښونه ) کلمو په ښو کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دچوکاټ له مخې د ( غ ) دتوري څخه کلمې جوړې کړي.

| | |
|---|---|
| | مى |
| ر | غ |
| | رمه |

کورنۍ دنده

غــ غــ غــ غ غ غ غ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ف



ددې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ف ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژنـــي او هم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

١. تاسې څوک پېژنئ چې دفوټبال لوبې کوي؟
٢. تاسې نورې کومې سپورټي لوبې پېژنئ؟
٣. تاسې فوټبال اويا نورې لوبې له چاسره کوئ؟
٤. سپورت کول څه ګټه لري؟



نداف






تيلفون

# فوټبال

فواد او غفور فوټبال کوي .

| |
|---|
| فوټـــ- بال |
| ت- لېـــ-فون |
| نـــ- داف |

ظريف د فوټبال له لوبې سره مينه لري.

فوټبال
تيلفون
نداف

فوټبال کول روغتيا ته ګټه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( فوټبال، ټېلفون، نداف ) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ف ) په تـــوري پیـــل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.

ف ـــ رهاد

ف ـــ واد

ف ـــ وټبال




فـــ فـــ فـــ فـــ ف ف ف ف ف

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ق



د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ق ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژنـــي او هم يې وليکلی شي.

پوښتنې:

١. ولې قلم ستاسې ښه ملګری دی؟
٢. پرته له قلم څخه نور په کومو شيانو ليکل کولی شو؟
٣. تاسې کوم توري او کلمې ليکلی شئ؟



قره قولي



قالينه ( غالۍ )



قلف

## قلم

قديم سبق وايي.

| |
|---|
| قــ- لم |
| ســ- بق |
| مــ - قيم |

قلم
سبق
مقيم

دی د مشق په قلم ښه ليکل کوي.


مقيم په سبق کې ډېر لايق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( قلم، سبق، مقیم ) دکلمو په څپوباندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه چې د ( ق ) په توري پیل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.





۳. زده کوونکي دې د ( ق ) دتوري شکل په ګوته په هواکې انځور کــړي اود هغې آواز دې هم وباسي.




قــ قــ قــ قــ ق ق ق ق

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ک




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ک ) د توري نوم، بڼه او غږ وپېژني اوهم يې وليکلی شي.


پوښتنې:

۱. تاسو سره په کور کې څوک اوسېږي؟
۲. تاسې دکور په کارونو کې څنګه مرسته کوئ؟
۳. تاسې په خپل کور کې دخپلې خوښې څه شی لرئ؟


چپرکټ


کدو


کورتۍ


کوزه

## کور

زموږ کور ښکلی دی.


| |
|---|
| کور |
| کړ - کې |
| پاک |

ز ه خپل کور پاک ساتم.

کور
کړکۍ
پاک

زه په کور کې کار کوم.


(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د (کور، کرکۍ، پاک) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( کړکۍ، کتاب اوپاک) په کلمو کې د (ک) تر توري دایره وکاږي، او د ( ک ) د توري ځای دې څرګند کړي. لکه: د ( پاک) په کلمه کې، (ک) په آخر کې راغلی دی.

۳. زده کوونکي دې دلاندې نیمګړو کلمو څخه، چې د ( ک ) په توري پیل شوې دي، بشپړې کلمې جوړې کړي.







کـــ کـــ کـــ ک ک ک ک

(c) ketabton.com: The Digital Library





# گ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( گ ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپيژني
اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

۱. په پورتني انځور کې کوم ډول گلان وينئ؟
۲. تاسې په کور کې گلان ساتئ ؟ اوکه يې ساتئ کوم ډول؟
۳. تاسې خورنګه گلان ليدلې دي؟










## گلان

دا د گلو باغ دی.

گلالۍ گلان ټولوي.

گلالۍ د گلانو گېډۍ جوړوي.

| |
|---|
| گ- لان |
| ننګ- يا- لی |
| ب - رګ |
| گېـ - ډۍ |

گلان
ننګيالی
برګ
گېډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( ګلان، ننګيالی او برګ ) دکلمو په ځپو باندې کار وکړي. بيا دې په دغو کلمو کې د( ګ ) توری په پيل، منځ او پای کـــې ځرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې دلاندې نيمګړو کلمو څخه چې د (ګ) په تـــوري پيـــل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.

ګـ — يلاس
ګـ — يدړه
ګـ — ل

تمرين

ګـــ ګـــ ګـــ ګـــ ګـــ ګ ګ ګ ګ ګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ل


د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ل ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپيژنــي اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**


١. په پورته انځور کې لالا څه کوي؟

٢. بزګران څه شیان کري؟

٣. له غنمو څخه په لاس راځي؟



لمر






ګل

## لو

| |
|---|
| لو – ګ - ري |
| لا - لا |
| ريـــ - بل |

**لالا لو کوي.**

**غنم په لور ريبل کېږي.**

**لوګري د لو کالي اغوندي.**

لوګري

لالا

ريبل

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې د ( لوګري،لالا، ګل ) دکلمو په څپو باندې کار وکـــړي.

بيادې په دغو کلمو کې د ( ل ) دتوري ځای څرګند کړي.

٢. زده کوونکي دې په تخته د ( لوګري، کالي، ربېل،ګل ) په کلمو کې د

( ل ) له توري دايره وکاږي.

کورنۍ دنده



لـ لـ لـ لـ لـ ل ل ل ل ل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# م

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( م ) د توري نوم، بڼه او غـــږ وپېژنـــي اوهم يې وليکلی شي.



مار



موږک

پوښتنې:

۱. تاسې د خپلې مور سره څه مرسته کولی شئ؟

۲. آيا تاسې د خپلې مور د سوغات څخه مننه کړې ده؟

۳. تاسې له هغو زده کوونکو سره چې مور او پلار نه لري څنګه مرسته کوئ؟

## مور

| |
|---|
| مور |
| ما - ما |
| احـــ – ت- رام |
| ما- هي |

زما مور کالي ګنډي.

مور په اولاد حق لري.

موږ د مور احترام کوو.

مور

ماما

احترام

ماهي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( مور،ماما، احترام ) دکلمو په ښو باندې کار وکړي.

۲. بیادې په دغو کلمو کې د ( م ) دتوري ځای څرګند کړي.


۳. زده کوونکي دې په تخته د ( مار، موږک، ماما او ماښام ) په کلمو کې د ( م ) تر توري دایره وکاږي.

کورنۍ دنده

مـــ مـــ مـــ مـــ م م م م

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ن



د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ن ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژنـــي اوهم يې وليکلی شي.










پوښتني:

۱. نارنج په کوم موسم کې پخېږي؟

۲. کومې مېوې نارنج ته ورته دي؟

۳. ستاسې کومې مېوې خوښېږي؟

## نارنج

| |
|---|
| نا - رنج |
| نن – گر- هار |
| ا – نار |

نارنج

ننگرهار

انار

د حنان نارنج خوښېږي.

د نارنج خوړل گټه لري.

په ننگرهار کې نارنج ډېر پيداکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( نارنج، ننګرهار، انار ) دکلمو په څپو باندې کار وکړي. بیا دې په دغو کلمو کې د( م ) توری څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( ناک، ونه، نارنج، ننګرهار ) په کلمو کې د ( م ) له توري دایره وکاږي.




نـــ نـــ نـــ نـــ ن ن ن ن ن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ڼ

د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ڼ ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژنــــي اوهم يې وليکلى شي.



بڼکه



مڼې



پاڼه

پوښتنې:

١. په پاس انځور کې څه وينئ؟ خبرې پرې وکړئ؟

٢. آيا تاسو چېرى اتڼ ليدلى دى؟

٣. آيا تاسې اتڼ کولى شئ؟

## اتڼ

| |
|---|
| ا - تڼ |
| څــ - ڼې |
| ب - ڼ - که |
| مــ - ڼې |

اتڼ

څڼې

بڼکه

مڼې

اتڼ د افغانانو ملي دود دى.

افغانان له اتڼ سره مينه لري.

خلک په خوښيو کې اتڼ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ . زده کوونکي دې د ( اتڼ، څـــڼـــې، بڼکه، مڼې ) دکلمو په څپو باندې کار وکړي.بیادې په دغه کلمو کې د ( ڼ ) دتوري ځای څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( اتڼ،څڼې، بڼکه، مڼې ) په کلمو کې د ( ڼ ) له توري دایره وکاږي.

کورنۍ دنده



ڼـــ ڼـــ ڼـــ ڼـــ ڼ ڼ ڼ ڼ ڼ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# و




د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( و ) د توري ،نوم، بڼه او غږ وپېژنــي اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**


۱. ولې واوره زموږ په ژوند کې ارزښت لري؟

۲. په واوره کې مو څه ډول لوبې خوښېږي؟

۳. دتصوير له مخې مو کوم ژوي خوښېږي او ولې؟



غوا



هوسۍ



پيشو

# واوره

په ژمي کې واوره اوري.

واوره ډېره يخه ده.

کوچنيان په واوره کې لوبې کوي.

| |
|---|
| واو - ره |
| سم- سور |
| هېـــ - واد |
| پيـــ- شو |

واوره

سمسور

هېواد

پيشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې د ( واوره، سمسور، هېواد، پيشو ) دکلمو په څپــو باندې کار وکړي. بيادې په دغوکلمو کې د ( و ) دتوري ځاى ځرګند کړي.


٢. زده کوونکي دې په تخته د ( واوره،سمسور، هېواد، پيشو ) په کلمو کې د ( و ) له توري دايره وکاږي.

کورنی دنده



و و و و و و و

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ه

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ه ) د توري، نوم، بڼه، غږ وپېژنــي او هم يې وليکلی شي.


دروازه


پياله


زينه

پوښتنې:

١. آيا تاسو څوک ليدلي دي چې له لرګي څخه يې څه شی جوړ کړی وي؟
٢. پرته له ارې څخه د نجارۍ نور کوم اسباب پېژنئ؟
٣. له لرګي څخه څه شيان جوړېدی شي؟

## اره

| |
|---|
| ا - ره |
| در- وا - زه |
| تبـــ- ره |

اره
دروازه
تبره

اره تبره غاښونه لري.

په اره لرګي اره کېږي.

نجار په اره کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( اره، دروازه، تېره ) دکلمو په څپو باندې کار وکـــړي.

بیادې په دغو کلمو کې د ( ه ) تورى څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( دروازه، اره، پیاله، زینه) په کلمو کې د ( ه ) له

توري دایره وکاږي.

کورنۍ دنده

ه ه ه ه ه ه ه ه ه ه


(c) ketabton.com: The Digital Library



# ی

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ی ) د توري ، نوم، بڼه او غږ وپېژني اوهم يې وليکلی شي.


منګی


ټولګی


خټکی

پوښتنې:

۱. په پاس انځور کې څه وينئ؟ خبرې پرې وکړئ!

۲. په منې کې خلک څه کارونه کوي؟

۳. پرته له خټکي څخه، په منې کې نورې کومې مېوې پيداکېږي؟

مـــ – نی

ســـ- ړی

زړ – ګی

لر – ګی

منی

سړی

زړګی

لرګی

# منی

زړګی خټکی خوري.

خټکي په منې کې پخېږي.

منی د مېوو موسم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( منی، سرې، زرګی، لرګی ) دکلمو په څپو کار وکړي.

بیادې په دغو کلمو کې د ( ی ) دتوري ځای څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( یارګل، منی، سرې، وری، روغتیا، منګی ) پــه

کلمو کې د ( ی ) تر توري دایره وکاږي.




ی ی ی ی ی ی ی ی

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ې

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ې ) د توري ، نوم، بڼه اوغږ وپېژني اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

۱. کومې مېوې مو خوښېږي؟
۲. څو ډوله مېوې پېژنئ؟
۳. ولې مېوې روغتيا ته ګټه رسوي؟
۴. کومې مېوې وچيږي؟ نومونه يې واخلئ!


مېوې


خولې


بياتيګانې

## مېوې

باغوان مېوې وچوي.

زمونږ هېواد ډېرې مېوې لري.

ځينې خلک په بازارکې مېوې خرڅوي.

| |
|---|
| مې – وې |
| هېـــ- واد |
| ډې – رې |

مېوې
هېواد
ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. زده کوونکي دې د ( مېوې، ډېرې، هېواد ) دکلمو په څپو کار وکړي. او په هغو کلمو کې دې د (ې) توری څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د (مېوې، لېرې، هېواد، ډېرې) په کلمو کې د (ې) له توري دايره وکاږي.




ې ې ې ې ې ې ې ې ې ې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۍ

د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ۍ ) د توري، نوم، بڼه ، غږ وپېژنـــي اوهم یې ولیکلی شي.

**پوښتنې:**


۱. تاسې په کور کې چرګان لرئ؟

۲. له چرګانو څخه څه ګټه اخلئ؟


۳. ستا په کور کې د چا هګۍ خوښېږي؟

۴. تاسې څه ډول پخې هګۍ خوښوئ؟

څپلۍ



خولۍ



جونګۍ



ډوډۍ

# هګۍ

هـــ – ګۍ
څپـــ - لۍ
نجـــ – لۍ
ډو – ډۍ

هګۍ
څپلۍ
نجلۍ
ډوډۍ

د هیلۍ هګۍ خوښېږي.

د هګیو خوړل ګټه لري.

ملالۍ هوسۍ ته تازه هګۍ راوړې.



۱. زده کوونکي دې د ( هګۍ، څپلۍ، نجلۍ، ډوډۍ ) دکلمو په څپو کار وکړي، بيادې په دغو کلمو کې د ( ۍ ) دتوري ځای څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( خولۍ، ډوډۍ، جونګۍ ، څپلۍ، هګۍ ) په کلمو کې د ( ۍ ) له توري دايره راتاوه کړی.




ۍ ۍ ۍ ۍ ۍ ۍ ۍ ۍ ۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library




# ئ


د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ئ ) د توري، نوم، بڼه، غږ وپېژنـــي اوهم يې ولیکلی شي.



کتاب ولولئ



لیک ولولئ



لیک ولیکئ

**پوښتنې:**

۱. لیک څه ډول استول کېږي؟

۲. پرته له ښوونځي څخه نور چېرې درس لولئ؟

# ولولئ

ول – و - لئ

و – لي - کئ

ولولئ

ولیکئ

## نجوني او هلکان سبق لولي.

## تاسي هم په ښوونځي کې سبق

## ولولئ، بیا یې په کور کې ولیکئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. زده کوونکي دې د ( ولولئ، وليکئ ، ولولئ ) دکلمو په ښېو باندې کار وکړي، بيادې په دغو کلمو کې د ( ئ ) د توري ځای څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( وخورئ، وليکئ، ولولئ ) په کلمو کې د ( ئ ) له توري څخه دايره وکاږي.

کورنۍ دنده

ئ ئ ئ ئ ئ ئ ئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ي

د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( ي ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژنـــي اوهم يې وليکلی شي.

**پوښتنې:**

۱. په پورتني انځور کې څه وينئ؟
۲. له ګودر نه پرته خلک له کوم ځای څخه اوبه په لاس راوړي؟
۳. له منګي څخه پرته اوبه په څه شي کې ساتئ؟



دوبي



پيشو

# منګي

دا منګي دي.



منګي

| | |
|---|---|
| لو | لي |
| دو | بي |
| لي | کي |
| اچـــ | وي |

لولي
دوبي
ليکي
اچوي

نجونې ګودر ته ځي.

له ګودرنه په منګيو کې اوبه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( لولي، دوبي، ليکي، اچوي ) دکلمو په څپو باندې کار وکړي. بيادې په دغو کلمو کې د ( ي ) توری ځرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې په تخته د ( لولي، دوبي، ليکي، اچوي ) په کلمو کې د ( ي ) له توري دايره وکاږي.





يـــ يـــ يـــ يـــ ي ي ي ي ي

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ه



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د ( هـــ ) د توري، نوم، بڼه او غږ وپېژني اوهم يې وليکلی شي.



هندوانه



هيلۍ

**پوښتنې:**

١. په پورته انځور کې هيلۍ څه کوي؟
٢. له هيلۍ نه پرته نور کوم الوتونکي لامبي؟
٣. تاسې څوک پېژنئ چې لامبو ووهلی شي؟


# هيلۍ

| |
|---|
| هيـــ - لۍ |
| ما - هي |
| هو - سۍ |
| هـــ - ګۍ |

هيلۍ
ماهي
هوسۍ
هګۍ

## هيلۍ په اوبو کې لامبو وهي.
## هلکان هم په پاکو اوبو کې لامبي.
## د ماشومانو لامبو وهل خوښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د ( هیلۍ، هوسۍ، هګۍ ) دکلمو په څپو باندې کـــار وکړي ،بیادې په دغو کلمو کې د ( هــ ) توری څرګند کړي.

۲. زده کوونکي دې د نیمګړو کلمو څخه چې د ( هــ ) په توري پیل شوې دي بشپړې کلمې جوړې کړي.

هــ — رچاته

هــ — رخوک

هــ — ر یو

هــ — یلۍ




هـ هـ هـ هـ هـ هـ هـ هـ هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الفبې

د دې لوست موخه ارز ونــه او د ټولــو تــورو د لیکلــو او لوســتلو تکرارول دي.

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | آ | ب | پ | ت | ټ | ث | ج | چ | ح | خ | څ |
| ځ | د | ډ | ذ | ر | ړ | ز | ژ | ږ | س | ش | ښ |
| ص | ض | ط | ظ | ع | غ | ف | ق | ک | ګ | ل | م |
| ن | ڼ | و | هـ | ه | ی | ۍ | ې | ي | ئ | | |



۱. زده کوونکي دې د الفبا توري دښوونکي دلارښوونې سره سم په خپلو کتابچو کې په ترتیب سره ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تېرو درسونو دتمرینونو تکرار او ارزیابي کول په لاندې ډول دي:
## ښوونکی دې دماشومانو پاملرنه تمرینونوته راواړوي.

### لومړی تمرین

۱- ماشومان دې لاندې توري په کلمو واړوي.

ط ، و ، ط، ي ، ط ، ا، هــ

ر ، خ ،ی ،ا، ط ، و،ط،ن

### دوهم تمرین:

۱- لاندې کلمې په تورو واړوئ.

منظره

نظر

ظاهر


حفیظ

نظمونه

نظم

### دریم تمرین:

۱- د (غ ) دتـــوري پـــه مرســـته لـــه نیمګړوکلمو څخه بشپړې کلمې جـــوړې کړئ.




### څلورم تمرین :

۱- زده کوونکي دې دلانـــدې جملو ځېې راوښيي.

کریمه ، کومک ، کتاب ، کوي

### پنځم تمرین:

۱- زده کوونکي دې په خبـــرو اودژوند په نورو برخو کې نوبت مراعات کړي.

### شپږم تمرین:

۱- لاندې ورته کلمې یوه له بلې ســـره ونښلوئ.


| | |
|---|---|
| میوې | هېواد |
| منګولې | مېلې |
| مستې | مزې |
| منې | منې |
| مزې | مستې |
| مېلې | منګولې |
| هېواد | میوې |

### اووم تمرین :

۱- په لاندې نیمګړو اوبشپړو کلمو کـــې د(ه) توری راپه ګوته کړئ او دایره تـــرې راو کاږئ.

**تله، وتله، ته، جوړه، ډېره، په، تره، راوړه،څه، مه، څـــه، پیاله، وراره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه  د زده کوونکو د الفبې د تورو د لوستلو او لیکلو پــه ارزښــت پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. آیا تاسې دالفبې ټول توري وېلی شئ؟
۲. دالفبې ټول څو توري دي؟
۳. ستاسو نوم په کوم توري پیل کېږي؟

# د الفبې ترانه

څه ښکلي حرفــونه دي    خــوارږه يې آوازونه دي
څه روان درســـونه دي    ښکلي يې انځورونه دي
خوښ موټول مخونه شول    دهرمخ مضمونونه شول
روانـــې کلمې لولــو    پــه مینه يې جملې لولو
ګوتې مـــو لګیا شولې    د لیک سره آشنا شولې
خلاصــه الفــبا شــوله
ژبه مو ګویـــــا شوله

محمد عثمان نژند

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې د تختې پرمخ خپل نوم وليکي او نورو زده کوونکو ته دې دخپل نوم لومړی توری ور په ګوته کړي.
۲. زده کوونکي دې دلوست په پای کې ورکړل شوی تمرين په کور کــې پــه خپلو کتابچو کې وليکي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| حرفونه | آوازونه | لګيا شوله | آشنا شوله |
| درسونه | | الفبا شوله | ګويا شوله |
| انځورونه | | کلمې لولو | جملې لولو |

کورنۍ دنده

توري

رواني کلمې لولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي لوست موخه  دا ده چې زده کوونکي دکال څلور موسمونه وپیژني او دهـــر موســـم نوم زده کړی شي.

**پوښتنې:**

۱.   تاسو د کال موسمونه پیژنئ؟
۲.   کوم موسم مو خوښیږي؟
۳.   تازه مېوې څه وخت پخېږي؟
۴.   د ونو پاڼې په کوم موسم کې ژېړېږي؟

# دکال موسمونه

یو کال څلور موسمه دی. پسرلی،دوبی، منی او ژمی. په پسرلي کې بارانونه اوري. په دوبـــي کې هوا توده او مېوې پخېږي.

منی دمېوو او غلو موسم دی. په ژمي کې هـــوا سړه او کله کله واوره ورېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د ( پسرلي، دوبي، منی، ژمی ) کلمې په تورو واړوي.

۲. زده کوونکي دې د لوست په پای کې ورکړل شوی تمرین، چې د پاڼې په لمن لیک کې راغلی دی، ولیکي.


کورنۍ دنده



موسم

په ژمي کې هوا سړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د اختر د نېکمرغــو ورځــو په باب معلومات پیداکړي.

پوښتنې:

۱. په انځور کې څه وینئ؟
۲. مسلمانان څو اخترونه لري او په اخترونو کې څه کوي؟
۳. تاسې په اختر کې څه کوئ؟


# د اختر ورځ

مورږ په یوه کال کې دوه اخترونه لرو. چې یو یې کوچنی اوبل یې لوی اختر دی. د اختر په ورځو کې نجونې او واړه هلکان لاسونه سره کوي. نوي کالي اغوندي، د خوښۍ او خوشحالۍ مېلې جـــوړوي او یوبل ته د اختر مبارکي وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د ( اختــر، کـــالي، مبـــارکي خوشحالي ) کلمې په تورو واړوي بیا دې هغه یوبل ته وښیي او یـــو د بل غلطۍ دې سمې کړي. ورکړل شوی تمرین دې زده کوونکي پـــه کور کې په خپلو کتابچو کې ولیکي.





کورنۍ دنده



اختر

په اختر کې یوبل ته مبارکي وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




د دې لوست موخه زده کوونکو ته  د هېواد اود هېواد پالنې  په هکلــه معلومــات ورکول دي.

**پوښتنې:**

۱. زموږ په هېواد کې څه څه شيان پيداکېږي؟
۲. ستا په خپل وطن کې څه شی خوښېږي؟
۳. موږ خپل هېواد ته څه ګټې رسولی شو؟

# زموږ هېواد

زموږهېواد ډېرښکلی دی. ډېرځنګلونــه او هسک غرونه لري. په ښکلو دروکې يې سيندونه بهېږي او خاوره يې دغلو دانو د  کرلو له پــاره ګټوره ده. دا هېواد ډېرکانونه هم لري. هېــواد موږ ته ديوه کور په شان دی، نوراځئ چې خپــل هېواد ودان او آباد کړو.

آباد دې وي زموږ ګران هېواد افغانستان !

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د ( هېواد، ځنګلونــــه، غرونـــه ) کلمې په ځېو واړوي.

۲. زده کوونکي دې د لوست په پای کې، لاندې تمرين په خپلو کتابچو کـــې کارو کړي .

خلک
هېواد
وطن
وګړي
زده کوونکي
ښوونکي
مشران

زموږ

کورنۍ دنده

هېواد

زموږ هېواد ډېر ښکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي په دې پوه شي چې زموږ ملـــي بـــيرغ د يووالي نښه ده.

**پوښتنې:**

۱. آيا تاسو بيرغ ليدلی دی؟
۲. زموږ د بيرغ رنګونه ښوولی شئ؟
۳. زموږ بيرغ دڅه شي نښه ده؟

# بيرغ

زموږ بيرغ درې رنګونه لري تـــور، ســـور اوشين. بيرغ زموږ د ملي يووالي نښه ده.


رپانده دې وي زموږ ملي بيرغ!

سرلوړي دې وي دافغانستان خلک!

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د ( بيرغ، شين، ملـــي، افغانـــستان ) کلمې په څپو واړوي. او لاندې تمرين دې په کور کې کار وکړي.







بيرغ

بيرغ زموږ ديوالي ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي جرګه وپېژني او په ارزښت يې وپوهېږي.

پوښتنې:

۱. تاسې دجرګې په هکله څه پوهېږئ؟
۲. تاسې په خپلو منځو کې څه ډول پرېکړې کوئ؟
۳. کله چې تاسې تصميم نيسئ دنورو سره مشوره کوئ؟

# جرګه

جرګه زموږ يو پخوانی دود دی.

جرګه د هېواد له مشرانو څخه جوړېږي.

په جرګو کې د خلکو ستونزې اوارېږي.

د جرګې پرېکړو ته هر څوک درناوی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په ټولګي کې دټولګي دپاکولو په هکله غونډه وکړي او د هغې په هکله دې پرېکړه وکړي چې د ټولو زده کوونکو په خوښه وي.

۲. زده کوونکي دې له نيمګړو کلمو څخه چې د ( لويه ) په کلمې سره پيل کېږي بشپړه کلمه جوړه کړي.

لويه — پرېکړه

لويه — غونډه

لويه — جرګه

لويه — جلسه

لويه — مرکه

۳. زده کوونکي دې د لمن ليک تمرين په خپلو کتابچو کې وليکي او يوبل ته دې وروښيي.

کورنۍ دنده

جرګه

د لويې جرګې غږ دخلکو غږ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه  دا ده چې زده کوونکي د سولې او آزادۍ  په اړتیا پوه شي.


پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه وینئ؟
۲. تاسې نور کوم الوتونکي مرغان لیدلي دي؟
۳. تاسې په خپل کور کې الوتونکي مرغان ساتئ؟

# کوتره

کاشکې!زه کوتــره وای　　غـــــاړه مې کمره وای
ناستـــــه په ډبـــره وای　　ډیــره تېز نظــره وای
پښې مې د سرو زرو وای　　ژوند مې بې خطره وای

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې دټولګي په مخ کې نورې سندرې، ترانې او نظمونه چې زده يې وي ټولګيوالو ته ووايي.

۲. زده کوونکي دې لاندې تمرين په کور کې په خپلو کتابچو کې وليکي.

کو ← تره - ترې / ر - رونه / ټه - ټې / ره - رې / زه - زې

کورنۍ دنده

کوتره

کاشکې! ژوند مې بې خطره وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د همکارۍ په اهمیت پوه شي او دهغـــې کلمې لوستل او لیکل زده کړي.

پوښتنې:

۱. آیا تاسې له چاسره مرسته کړې ده؟

۲. کله چې تاسو مرستې ته اړتیا درلوده چا د رسره مرسته کړې ده؟

۳. تاسې دکور په کوم کارکې مرسته کوئ؟

# همکاري


ټول ماشومان یو د بل همکارۍ ته اړتیا لري. دوی په هر

کارکې باید یو بل ته لاس ورکړي.

څکه په همکارۍ کې هرکار په ښه شان ســـرته رسېږي.

ماشومان په ګډه کار کې له یوبل څخه زده کړه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په څو ګروپونو وویشل شي او دوی دې له هغو شیانو نـــه چې ورسره آشنا دي لکه ( کمربند، رسۍ، قلم، لښته) کتارونه جوړ کړي او په پای کې دې وګوري چې دچا کتار اوږد دی.

۲. زده کوونکي دې له توروڅخه دکلمودجوړولو تمرین په خپلو کتابچو کـــې ولیکي او دخپلوګروپونو غړوته دې وروښيي.

۳. زده کوونکي دې په کور کې دلن لیک تمرین ولیکي او بیا دې ولولي.

غو — اړه، اړي، ښتنه، ښتني، ښت




## همکاري

هرانسان دبل مرستې اوهمکارۍ ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې:
۱. زده کوونکي دانسانانو په برابرئ پوه شي.
۲. په دې وپوهېږي چې ټول انسانان يو شان ټولنيز حقونه لري.

پوښتنې:

۱. آيا انسانان له يو بل سره توپير لري؟
۲. ولې ټول انسانان دعزت وړ دي؟
۳. ښه انسان څوک دی؟

# ښه انسان

ټول انسانان په يو شان پيدا شـــوي دي. هـــر انسان عزت لري. تور په سپين اوســـپين پـــه تـــور لوړوالی نه لري. خو هغه انسان تر نورو ښـــه دی چې نېکخويه وي ، ښه کارونه کوي او نورو ته يې ګټه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې ددغه چوکاټ ورته کلمې يوه له بلې سره ونښلوي.بيادې دلاندې نيمګړو کلمو څخه بشپړې کلمې جوړې او يوبل ته دې ورووښيي.

| | |
|---|---|
| انسان | عزت |
| عزت | انسان |
| تول | يوشان |
| يو شان | تول |

ا

نسان

نسانيت

نار

نا

نور




انسانيت

هر انسان عزت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي په ټولنيز ژوند کې د ( زغم ) په ارزښـت او اهميت ښه پوه شي.

**پوښتنې:**

۱. آيا تاسې کوم وخت له چا سره شخړه يا لانجه کړې ده؟
۲. پرته له شخړې څخه ستاسې لانجه په بله کومه لاره نه حل کېدله؟
۳. په کوم وخت کې سړی له صبر او زغم څخه کار واخلي؟

# زغم

کله کله ماشومان په خپلو منځو کې لانجې کـوي. ماشومانو ته په کار دي چې د شخړو په وخت کې لـه زغم اوصبرکولو څخه کار واخلي او له ځـان څخـه دا پوښتنه وکړي چې آيا دا لانجه په شخړه ارزي اوکه نـه؟ شخړه ښې اړيکې له منځه وړي او ملګرتيا تـه زيـان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې دمخامخ چوکاټ ورته کلمې يــوه له بلې سره ونښلوي.

۲. زده کـــوونکي دې لانـــدې نيمګړې کلمې بشپړې کړي او يوبل ته دې ور وښيي.

| | |
|---|---|
| شخړه | لانجه |
| زغم | غوره |
| خبرې | خبرې |
| لانجه | زغم |
| غوره | شخړه |

ز — غم / غله / ه / ده کړه / وی / امن

کورنی دنده

زغم

لانجه او شخړه ښه کارنه دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه زده کوونکو ته د وخت اوخپل مسوولیت پېژندنه او په دوی کې دخپلواکۍ دروحيې پیدا کول دي.

پوښتنې:

۱. هره ورځ څه کارونه کوئ؟
۲. آیا دلوبو له پاره وخت ټاکئ؟
۳. کوم کارونه کولی شئ؟
۴. تاسې له څاسره ښه کار کړی دی؟

# ښه ماشومان

ښه ماشومان د هر کار له پاره ټاکلی وخت لري.
دوی په خپل وخت ښوونځي ته ځي او د کور په کارونو کې مرسته کوي. همدارنګه په ټاکلي وخت لوبې کوي او په لوبوکې چا ته زیان نه رسوي. ښه ماشومان د ټولو خلکو درناوی کوي او له هر چا سره ښې اړیکې ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپل ګروپ کې په مشوره ځانونو ته یوه- یوه دنـــده وټاکي چې دټولګي اوښوونځي په نظم او ساتنه کې ونډه واخلي. دمثال په توګه: په ټولګي کې دکاغذونوټولول، دتختې پاکول، دڅوکیو اومېزونـــو ترتیب او داسې نور.

۲. زده کوونکي دې دغه نیمګړې کلمې بشپړې کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

سپا ← ښتونکی، ښتونکي، ښت، ښتنه، ه، ل

کورنۍ دنده

وخت

دهرکار له پاره ټاکلی وخت وټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي په ژوند کې د اوبو په ارزښت او اهميت پوه شي او د نويو کلمو ليکل او لوستل زده کړي.

**پوښتنې:**

۱. د ناپاکو اوبو څښلو سره انسان په کومو ناروغيو اخته کېږي؟
۲. اوبه کروندو اوبوټو ته څه ګټه لري؟
۳. مورې ولې خپل لاس، خوله، مخ او ټول ځان په پاکو اوبو مينځو؟
۴. آيا ټولې اوبه پاکې دي؟

# اوبه او ژوند

اوبه زموږ ژوند ته ډېرې ګټې لري. که اوبه نــه وای د ټولو انسانانو او ژوو ژوند به نه و. ټولې کروندې ونې او بوټي د خپل ژوند له پاره اوبو ته اړتيا لري. موږ هم بايد له پاکو اوبو څخه د څښلو، ځان پاکولو او نورو اړتياوو د لرې کولو له پاره کار واخلو چې روغتيا مو وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د لاندې چوکاټ د تـــورو څخـــه کلمې جوړې کړي.

| |
|---|
| ژ – و – ن – د |
| ا – و – ب – ه |
| م – ې – و – ې |
| س – ی – ن - د |

اوبه

آبادي ده.

ژوند دی.

سمسورتیا ده

ښکلا ده.

غلې داني پخوي.

کورنۍ دنده

اوبه

انسانان په اوبو ژوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي دلمر دګټو په ارزښت پوه شـــي او دنـــوو کلمو ليکل او لوستل زده کړي.

پوښتنې:

۱. غلې او دانې په څه شي پخېږي؟
۲. لمر څه وخت راخېږي؟
۳. لمر څه وخت لوېږي؟

# لمر

زموږ هېواد ډېر ځلانده لمر لري.

لمرساړه لرې کوي او تودوخه راولي.

لمر ټولو ونو، بوټو اوسبوته ژوند وربښي.

لمر تيارې رڼا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې دلاندې چوکاټ له تورو څخه کلمې جوړې کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

| |
|---|
| ل – م – ر |
| ځ – ل – ا – ن – د – ه |
| ت – و – د |
| س – ا- ړ – ه |
| ت – ی – ا – ر- ه |

ل — امبو
ل — امبي
ل — مونځ
ل — ومړی
ل — ار




لمر

لمر ساړه لېږي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د روغتيا په ارزښت او د هغې په ساتنه پوه شـــي او د نـــوو کلمو لوستل او ليکل زده کړي.

پوښتنې:

١. سپورت څه ته وايي؟

٢. آيا تاسې سپورت کولی شئ؟

٣. نجونې او هلکان پرته له سپورت څخه د روغتيا د ساتنې له پاره نورڅه کولی شي؟

# روغ سړی

روغ سړی هرسهار له خوبه پاڅېـږي سپورت کوي. هغه په وړو خبرو ځان نه خپه کـــوي اوکوښـښ کـــوي چـــې خوشحاله وي. روغ سړی نه يوازې خپل ځان بلکې خپـــل چاپېريال هم پاک اوسوتره ساتي. روغ سړی مېوې او نـــور خوراکي شيان په اوبو پاک مينځي اوبيايې خوري. پاکوالی روغتيا ته ډېره ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په ګډه سپورتي حرکتونه په عملي توګه سرته ورسوي.

۲. زده کوونکي دې دلن لیک تمرین په کور کې ولیکي.




روغتیا

روغ سړی هروخت خوشحاله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخه: زده کوونکي به د مخدره توکو او نورو بدو عملونو له پایلو خبر شي او دنوو کلمو لوستل او لیکل به زده کړي.

پوښتنې:

۱. نیشه یي مواد ولې بد دي؟
۲. څوک چې چلم او نسوار کاروي دهغوی دخولې بوی بد لګېږي؟
۳. بد عملونه نورڅه زیانونه لري؟

# بدکارونه

سګرټ، نسوار، چرس او د نورو نشه یي موادو کارول روغتیا ته زیان رسوي.

کله کله داسې بد عملونه د انسان د مرګ سبب هم کېږي. د نشې بل زیان د پیسو زیان دی.له بدو کارونو څخه ځان ساتل د خدای(ج) امر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونوکې دمخامخ چوکاټ له تورو څخه کلمې جوړې کړي.

۲. زده کوونکي دې دلن لیک تمرین په کورکې ولیکی.

بد — عمل
بد — کارونه
بد — عملونه
بد — کړه وړه

| |
|---|
| س – ګ – ر– ټ |
| ن – س – و – ا – ر |
| ت – ا – و – ا – ن |
| چ – ر - س |

تمرین

تاوان:

بد عملونه روغتیا ته تاوان رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي داورلګيت په خطرونو پوه کړی شي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه وينئ؟
۲. پرته له اورلګيت څخه له نورو کومو شيانو سره لوبې کول خطر لري؟
۳. که چېرې کوم شی اور واخلي تاسې بايد څه وکړئ؟

# اورلګيت

ګلنارې! ګل اندامه وګوره!
ګل اندامه اورلګيت ته نږدې کېږي.
ګل اندامې! له اورلګيت څخه لېرې ګرځه،
ځکه چې اورلګيت د لوبو شی نه دی اوخطرلري.


(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې ددغه چوکاټ ورته کلمې یوه له بلې سره ونښلوي مثال یې ورکړل شوی دی.

| | |
|---|---|
| اورلګیت | لیرې |
| خطر | اور |
| اور | ګل ناره |
| ګل ناره | خطر |
| لیرې | اورلګیت |

۲. ښوونکی دې زده کوونکي په ګروپونو وویشي ترڅو دورکړل شوي تمرین نیمګړې کلمې بشپړې کړي.




کورنۍ دنده

اورلګیت:

داورلګیت څخه خطر پیداکېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه  دا ده چې زده کوونکي د نوو کلمو لوستل او ليکل زده کړي او د زړښت له مفهوم سره آشنا شي.

پوښتنې:

۱. په انځور کې څه وينئ خبرې پرې وکړئ؟
۲. زوړ سړی ولې کړوپ کړوپ په لاره ځي؟
۳. سپين ږيري ربنتيا په ځوانۍ پسې لټه کوله؟

# ځواني لټوم

يو سپين ږيری کړوپ، کـــړوپ، پـــه لاره روان و. شايې کړوپه وه. يوهلک په مخه ورغی، پوښتنه يې ترې وکړه، باباجانه څه لټوې؟

ده ورته وويل، "چې ځواني لټوم ځواني!!!"

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په ټولګي کې اويا دباندې په يوه ګروپ کې سره کېښېني دهر چاچې په زړه پورې کيسې زده وي په نوبت سره دې نورو ټولګيوالوته ووايي.

۲. زده کوونکي دې دلن ليک تمرين په خپلو کتابچو کې وليکي.

کورنی دنده

ځواني:

بابا ځواني لټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې:
١. زده کوونکي دکيسو په مرسته دنوو کلمو ليکل او لوستل زده کړي.
٢. د انا اولمسيانو ترمنځ دخوږو اړيکو پېژندل دي.

**پوښتنې:**

١. ستاسو انا له تاسو سره په خپل کور کې اوسېږي؟
٢. ستاسو انا له تاسو سره څه کوي؟
٣. د انا يوه کيسه موږ ته ووايئ؟

# انا

زمری چې ډېر کوچنی و، له خپلې اناڅخه يې پوښتنه وکړه: رښتيا ووايه، څـــومره مـــوده کېږي چې ته زما انا يې؟ انا خپل لمسي ته وکتل او ورته يې وويل: له هغې ورځې نه چې ته دې دنياته راغلی يې. زمري وويل: که چېرې زه نه وی راغلی ته زما انا نه کېدې؟ ښه نو اوس څه شی راکوې چې ته مې انا کړې يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په ټولګي کې اویا دباندې په یوه ګروپ کې سره کېنیني د هرچا چې د انا او یا نورې په زړه پورې کیسې زده وي په نوبت سره دې نورروته ووایي.

۲. زده کوونکي دې دلن لیک تمرین په خپلو کتابچو کې ولیکي.

کورنۍ دنده

انا

انا ماته کیسې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي  په دې پوه شي چې ټول خلک ددرناوي ور دي.

پوښتني:

۱. تاسې دخلکو څه ډول درناوی کوئ؟

۲. درناوی چاته باید وشي؟

۳. ستاسو له نظره کوم کارونه ښه دي؟

# درناوی

ټول انسانان که ښځې دي اوکه نارینه، که سپین ږیري وي اوکه ځوانان او یا ماشومان ، د د رنـــاوي وړ دي. ښــه ماشـــومان د ټولـــو خـــلکـــو د رناوی کوي. په هر کارکې نوبت مراعاتوي. د سپین ږیرو نه مخ ته نه ځي. د چا په خبروکې نه لوېږي. او دوی تل له هرچا سره ښه چلند لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په نوبت سره دټولګي مخ ته راشي او زده کوونکو ته دې په دې هکله چې دوی څه ډول اوچا ته درناوی کوي ، خبرې وکړي.

۲. زده کوونکي دې دلن لیک تمرین په خپلو کتابچو کې ولیکي.

کورنۍ دنده

درناوی

ټول انسانان ددرناوي وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د دوستۍ او د ملګرتيا په ارزښت پـــوه شي، دنوو کلمو ليکل او لوستل زده کړي.

پوښتنې:

۱. تاسې دوستان لرئ؟

۲. آيا تاسو له چاسره څه ډول مرسته کړې ده، ؟

۳. د ښه دوست درلودل څه ګټې لري؟

# دوستي اوملګرتيا

توريالی د زمرک ښـــه ملګـــری دی. دوی همېشه له يو بل سره مرسته کوي. کله چې يو خپه وي، نود خپل زړه حال بل ته وايي.

زمرک د يوه کـار کولـو څخه مخکې دخپل ملګري سره مشوره کوي. دوی همېشه له يـــو بل سره لوبې او ساعت تېري هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې په نوبت سره دخپلو دوســتانو او ملګرو دښو کړو وړو په هکله خبرې وکړي.

٢. زده کوونکي دې دلته لیک تمرین په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ماشو — مانو
ماشو — متوب
ماشو — موالي
ماشو — م

کورنی دنده

دوستي

توریالی دزمرک ملګری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي د روغې جوړې په ارزښت او اړتيا پــوه شــي او د نووکلمو ليکل اولوستل زده کړي.

پوښتنې:

١. پخلاينه څه ته وايي؟
٢. د مرورو کسانو پخلاتوب تاسو ليدلی دی؟
٣. آيا تاسو کوم وخت له چاسره لانجه کړې ده؟
٤. آيا تاسو څوک پخلا کړي دي؟

# روغه جوړه

کله چې د ماشومانو ترمنځ لانجه پيداشي بيا دوی له يو بل سره لوبې اوخبرې نه کوي.

مرور ماشومان بايد د ملګرو په مرسته پخـــلا شي. ترڅو خپلو لوبو ته دوام ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د ( روغې جوړې ) پــه هکلــه کیسې وکړي، دمثال په توګه : دوی دچاسره په څه شي شخړه کړې ده. او بیا څه ډول پخلا شوي دي؟

۲. زده کوونکي دې دلن لیک تمرین په خپلو کتابچو کې ولیکي.




روغه جوړه

ماشومان تل له یو بل سره روغه جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لوست موخه دا ده چې زده کوونکي له کتاب سره مينه پيدا کړي او ښې ساتنې ته يې وهڅول شي.

پوښتنې:

۱. ولې کتاب ستاسې ښه ملګرى دى؟
۲. له دې کتاب څخه مو څه شيان زده کړي دي؟
۳. په دې کتاب کې مو کوم شيان خوښ دي؟
۴. کتاب بايد څه ډول وساتل شي؟

# کتاب

نـــوم زمـــا کتاب دى　　تاته مې خطـــاب دى
زه ستا ښـــه آشنا يمـــه　　تـــاتـــه کيـــسې وايمه
خومره ښې کيسې لرم　　شاتو نـــه خوږې لرم
مشق دې دليکـــنو يم　　هم دې دلوستـــلو يم
پام مې په ساتلو کـــړه　　په پاڼـــو اړولـــو کړه
پاک مې له ګردونو کړه　　پام په انـــځورونو کړه
ښکلى مې هر باب دى
نـــوم زما کـــتاب دى


اروابناد محمد عثمان نژند

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې دکتاب په هکله يوه- يـوه جملـه ولیکي او بیا دې د خپل ګروپ جملې په یوه پاڼه کې ولیکي او دټولګي په مخ کې دې ولولي. هر ګروپ دې داکار په نوبت سره سرته ورسوي.

۲. زده کوونکي دې د لاندې تمرین په خپلو کتابچو کې ولیکي.




کورنۍ دنده

کتاب

کتاب زمونږ ملګری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دهیلۍ خړرنګه بچي

هیلۍ او دهغې بچیان په خپلو منځو کې یو بل ته ډیر ګران وو او په خوشحالۍ یې ژوند کاوه.




(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې وروستی بچی له هګۍ څخه راووت، د هغه رنګ خړ او له نوروبچیانو څخه لوی و.



(c) ketabton.com: The Digital Library



مورته خړ بچی د نورو په څېرګـــران و ولې نوروبچیانوته دا خړ بچی چې دهغو په شان نه و، ګران نه و، ځوراوه بــه يې. او ویل يې چې هغه بدرنګه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړ بچی دهغو له لاسه ډېر په تـــنګ و

او له کوره لېرې ولاړ. هغه هلته یوازې

شو او ډارېده. هغه پـــه خپـــل کـــور

اوخپلوانو پسې خپه شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا سړېدله، يوه ورځ يې وليدل چـــې

لوی الوتـــونکي د برپورتـه پـه هوا کـې

الوزي. هغه الوتونکي ډېر ښکلـــي وو.

کوچني بچي وويل: کاشکې زه بدرنګه

نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پسرلي کې هغې، همغه ښکلي الوتونکي بیاهم ولیدل. داځلې هغه مرغان ددې مخې ته راکوز شول او ورته یې وویل: چې ته زموږ په څېر یوه هیلۍ یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې باور نه کاوه، خوچې کله يې ترخپلو پښولاندې اوبوکې وکتل، خپله څېره يې وليده پوه شوه، چې دا يوه بدرنګه هيلۍ نه، بلکې هغه نوره غټه شوې او ديــــوې ښکلې هيلۍ په څېرده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې ترانه

پوهنه ده رڼا وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

پوهنه ده رڼا،وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

وطن زما يې ځان له تانه شم قربان
ته وينه دافغان ته لوړ په ټول جهان

پوهنه ده رڼا،وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

آباد اوسې آباد وطنه ته شې ښاد
موږه سربښندو په تا اوسا تو دې آزاد

پوهنه ده رڼا،وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

ته کور يې هم مې ګور ته پلارېې هم مې مور
ته زړه دآسيا او زما دسترګو تور

پوهنه ده رڼا،وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

ته ننګ يې دآريا او تاج يې ديما
ځاريږمه له تا افغانستان زما

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

محمد مُعین مرستیال

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**